د افغانستان د بشرحقونو خپلواك كميسيون

مطبوعاتي خبرتيا :

د كندهار ولايت د پنجوا ئي ولسوالى كي د سړك جوړولو شل كسه كاركران د سړك د غاړى د ماين په چاود نه كي مړه او شل كسه نور ټپيان شوي دي. همدارنكه د لغمان ولايت د اليشنګ په ولسوالى كي د دولت د مخالفو ډلو (طالبانو) له خوا د يوى ځان مركي پېښي له امله ۴ كسه مړه او ۱۴ كسه ټپيان شوي دى، چي دا د نړيوالو بشر دوستانه قوانينو څخه ښكاره سرغړونه اود بشريت په وړاندي جنايت دي :

كابل : د۱۳۹۰ ل هه كال د غبرګولى ۳ (۲۰۱۱ د مى ۲۴ )

د كندهار ولايت په پنجوائي ولسوالي كي نن (۳ / ۳ / ۱۳۹۰ ) د سړك د غاړي د مين په چاود نه كي ۲۰ كسه د سړك جوړولو كا ركران مړه او ۲۰ كسه نور ئي ټپيان شول ، دغه غميزه د دولت د وسلوالو مخالفو ډلو له خوا تر سره شويده . همدارنكه د لغمان ولايت د اليشنګ په ولسوالى كي د دولت د مخالفو ډلو (طالبانو) له خوا د يوى ځان مركي پېښي له امله ۴ كسه مړه او ۱۴ كسه ټپيان شوي دى.

د افغانستان د بشرحقونو خپلواك كميسيون په دې وسيله د قربانيانو د كورنيو سره خپله خواخوږي شريكوى او د هغوى د كورنيو پاته كسانوته د لوى خداى (ج) د دربار څخه لوى صبر اوټپيانوته ژرترژره روغتيا غواړي .
د افغانستان د بشر حقونو خپلواك كميسيون د ملكي كسانو وژل اوټپي كول د اسلام د مقدس دين د موازينو خلاف او د نړيوالو قوانينو پرضد كار ګڼي او په دې ډول په ښارونو او ولسواليو كي پر ملكي كسانو باندي تر هګري بريدونه په كلكه باندي غندى . دغه كړني په هيڅ ډول باندي توجيه كيدلاى نشي او د دې غوښتونكى يو چي وسله والى مخالفى ډلى په هيڅ توګه باندي ملكي خلګ په نښه نكړي .
د نن ورځى د سړك د غاړي د چاودني پېښه او د اليشنګ په ولسوالى كي د ځان مركي پېښي چي ملكى كسان په نښه شوي وه د نړيوالو بشر دوستانه قوانينو (دژينو كنوانسيون ) تر پښو لاندى كول دى .
د افغانستان د بشر حقونو خپلواك كميسيون په دې اړه لويه اندېښنه لري او د افغانستان د جمهورى اسلامى دولت څخه غواړي چي د دې لوى جنايتونو سرته رسونكي محكمي ته راكش كړي او په دې برخه كي ګړندې هڅي وكړي .

د افغانستان د بشر حقونو خپلواك كمسيون
افغانستان كابل، دريېمه كارته ، سور پل
تيلفون : 0202500676
فكس : 0202500677
ايميل: aihrc@ aihrc.org,af
سايت : www.aihrc.org.af